چا چې وويل: زه په الله (جل جلاله) د رب، په اسلام د دين او پر محمد د رسول په توګه راضي او خوښ يم، نو جنت ورته واجب شو

د ابوسعيد الخدري رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: « چا چې وويل: زه په الله (جل جلاله) د رب، په اسلام د دين او پر محمد د رسول په توګه راضي او خوښ يم، نو جنت ورته واجب شو».

[صحيح دی] [ابو داود روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې څوک ووايي: «زه په الله جل جلاله د رب، معبود مربي، مالک بادار او اصلاح کوونکي په توګه خوښ يم «په اسلام د دين په توګه» يعني د اسلام په ټولو حکمونو؛ که اوامر دی يا نواهي، د دين، ملت، او شريعت په توګه په عقيده او اطاعت سره منم او پرې خوښ يم «او په محمد صلى الله عليه وسلم د رسول په توګه خوښ يم» چې د هغه ټول رسالت، پيغام او لارښوونې چې مور ته يې راوړي، په ايمان او پيرو سره منم؛ نو داسې انسان ته جنت واجب شوی دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65906